# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**5عقرب_سال 1403**





# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب

عنوان صفحه


د مهاجرينو چارو وزارت له خوا د "مهاجرين؛ ننګونې او فرصتونه" په نوم یو ورځنی علمي سيمينار جوړ شو. ------1

حقاني: اسلامي امارت دې هغه کسانو ته سخته سزا ورکړي، چې خلک په قاچاقي لارو بهر ته بيايي ------------------2

د فرانسې او بريتانيا ترمنځ په سمندر کې درې نور کډوال ډوب شوي------------------------------------------------4

محکمه اداری فدرال در آلمان: با ادغام در جامعه نمی شود الحاق همسر را تسریع کرد ------------------------------5

کنترول های مرزی در آلمان: ۱۰۰۰ تن در مرزهای غربی عقب رانده شده‌اند----------------------------------------7

هالند: بسته سختگیرانه تر پناهندگی و کنترول مرزها نیز برنامه ریزی شده است------------------------------------8


خبرنامه

# متن کامل اخبار

## د مهاجرینو چارو وزارت له خوا د "مهاجرین؛ ننګوني او فرصتونه" په نوم یو ورځنی علمي سیمینار جوړ شو .

د وزارت ویب سایت




د "مهاجرین، ننګوني او فرصتونه" یو ورځنی علمي سیمینار نن د لړم پر درېیمه په بابربڼ کې د مهاجرینو چارو وزارت له خوا د جګپوړو دولتي چارواکو، د همکارو بنسټونو د استازو، علماوو، جهادي شخصیتونو او د پوهنتون د استادانو په شتون کې ترسره شو .

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني د دې علمي سیمینار په پیل کې وویل: خوښ یو چې د مهاجرینو په علمي سیمینار "مهاجربن؛ ننګوني او فرصتونه" کې سره یو ځای یو او له لوی څښتن (ج) څخه تاسې ته د بریالیتوب هیله کوم.

موږ د هغو ورونو لپاره چې په بهر کې دي، د یووالي، ورورولۍ او د هغوی د ستونزو د حل په برخه کې خپل مسولیت درک کوو، چې د خپلو مهاجرینو ستونزې حل کړو.

په تېرو درې کلونو کې میلیونونه مهاجر خپل هېواد ته راستانه شوي دي او اوس هم ډېر افغان مهاجرین له سختو شرایطو سره مخ دي. موږ په دې برخه کې د امارت او ملت همکاري غواړو او مهاجرینو ته ډاډ ورکوو، چې اسلامي امارت له تاسې سره دی، کوم مسولیت چې موږ ته راسپارل شوی دی، شپه او ورځ به ستاسې په خدمت کې یو.

**نوموړي د اسلامي امارت د رهبرۍ د مدبرانه مدیریت ستاینه وکړه او له سوداګرو او مخورو څخه یې وغوښتل، چې د مهاجرینو مرسته او لاسنیوی وکړي.**

**د افغانستان د اسلامي امارت د ریاست الوزرا سیاسي مرستیال مولوي عبدالکبیر په دې مراسمو کې وویل: د بهرنیو بېلابېل یرغلونه د دې سبب شول، چې د افغانستان مسلمان خلک له هېواد څخه ووځي او شپې او ورځې په بهرنیو هیوادونو کې تېرې کړي.**

**نوموړي د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت د کارونو ستاینه وکړه او له ګاونډیو هېوادونو یې وغوښتل، چې د مهاجرینو حقونو ته درناوی وساتي او ښه چلند ورسره وکړي.**

**دغه راز د ریاست الوزرا سیاسي مرستیال له بنسټونو وغوښتل، چې د ژمي له رارسېدو وړاندې له مهاجرینو سره مرسته وکړي او له پانګوالو یې هم غوښتنه وکړه، چې هېواد ته راستانه شي او افغانانو ته د کار زمینه برابره کړي.**

**د مهاجرینو چارو وزارت مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد وویل: خوښ یو چې یو خپلواک او اسلامي حکومت لرو او په داېمنه فضا کې د داسې یو سیمینار د ترسره کېدو ګډونوال یو.**

**میلیونونه هیوادوال د ستونزو، بې عدالتۍ او جګړو له امله بهرنیو هیوادونو ته مهاجر شوي وو.**

**ښاغلي راشد زیاته کړه: اسلامي امارت د خپل وس او توان برابر ستاسې همکار دی.**

**د اسلامي امارت رهبري پخپل مدبرانه مدیریت سره وکولای شول چې د مهاجرینو اجباري راستنېدنه تر خپلې وسې کنټرول کړي.**

**دغه وزارت هڅه کوي، چې د مهاجرینو د راستنېدو لپاره زمینه برابره کړي او د اسلامي امارت له بریا وروسته بیرته راستنېدنه پرمخ هم تللې ده.**

**د ازموینو ملي اداري لوی رییس شیخ عبدالباقي حقاني هم ګډونوالو ته د اسلام د مبین دین د لارښونو له نظره د هجرت او مهاجرت په اړه خپله عالمانه وینا واوروله.**

**د دې یو ورځني علمي سیمینار بل ویناوال د ارشاد، حج او اوقافو وزارت مسلکي مرستیال شیخ زرمحمد حقاني د خپلې وینا په یوه برخه کې وویل: د اسلامي نظام د ټینګښت لپاره هجرت مهم دی، د الله ج حکمونه له اسلامي نظام سره پلي کېږي او د افغانانو هجرت د یو اسلامي نظام د رامنځته کېدو لپاره و.**

**په همدې ډول د اوبو او انرژۍ وزارت سلاکار ډاکتر فاروق اعظم د ښار او کور جوړونې وزارت مرستیال ارسلا خروټي، د کانونو وزارت حقوقي سلاکار پوهنمل عبیدالله اخُندزاده، د مهاجرینو چارو وزارت مشاور مفتي محمود ذاکري او د پوهنتون دوو استادانو هم په دې علمي سیمینار کې خپلې ویناوې له ګډونوالو سره شریکې کړې.**

**دا سیمینار په ځو شعرونو او د مهاجرت په اړه د تیاتر په یوې ننداریې سره پای ته ورسید.**

## حقاني: اسلامي امارت دې هغه کسانو ته سخته سزا ورکړي، چې خلک په قاچاقي لارو بهر ته بیایي

آژانس اطلاعاتی باختر



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook**: *https://www.facebook.com/morr.gov.af2*




**د کډوالو او را ستنېدونکو چارو وزارت له لوري نن په پلازمېنه کابل کې د (مهاجرین، ننګونې او فرصتونه) تر سرلیک لاندې علمي سیمینار او مشاعره ترسره شوه.**

**د ریاست الوزراء سیاسي مرستیال مولوي عبدالکبیر په یاد سیمینار کې وویل چې په افغانستان کې د اشغالونو له کبله میلیونونه افغانان کډوالۍ ته اړ کړل شوي وو.**

**هغه غوښتنه وکړه، چې کوربه هېوادونه دې افغان کډوال نه مجبوروي، چې په زور خپل هېواد ته را ستانه شي او په وینا یې اسلامي امارت په ټول توان سره هڅه کوي، چې هېواد ته د کډوالو د بېرته راتګ زمینه برابره کړي.**

**سیاسي مرستیال همدارنګه هیله څرګنده کړه، چې د کډوالۍ نړیوالې ادارې او همکار بنسټونه دې په ژمي کې له راستنېدونکو کډوالو او داخلي بېځایه شویو کورنیو سره خپلو مرستو ته دوام ورکړي.**

**په ورته وخت کې د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت سرپرست خلیل الرحمن حقاني په دغه سیمینار کې وویل چې اوسمهال افغانستان د نړۍ په کچه ډېر کډوال لري، چې له سختو ستونزو او کړاونو سره مخ دي.**

**هغه زیاته کړه، چې د شته امکاناتو په نظر کې نیولو سره د کډوالو د ستونزو حل او په خوندي توګه یې هېواد ته د راستنولو هڅه کوي.**

**حقاني همدارنګه وویل چې اسلامي امارت باید هغه کسانو او قاچاق وړونکو ته سخته سزا ورکړي، چې افغان ځوانان په غیر قانوني لارو بهر ته بیایي او تشویقوي یې.**



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

نوموړي له ځوانانو څخه غوښتنه وکړه؛ هغه پیسې چې بهر ته یې د تګ په موخه قاچاق وړونکو ته ورکوي دلته په هېواد کې دې وربانديې کار وکړي.

حقاني څرګنده کړه، چې ديني عالمان دې خلک وهڅوي، چې بهر ته په غير قانوني لارو تګ ته زړه ښه نه کړي.

په همدې حال کې د ازموينو ملي ادارې سرپرست شيخ عبدالباقي حقاني وويل چې په تعليمي نصاب کې دې د کډوالو حقوق، مسووليتونه او اخلاقو ته ځانګړې پاملرنه وشي.

د يادونې وړ ده، چې په دغه سمينار کې د ګډونوالو له لوري د کډوالو د بېرته راستنېدنې لپاره د مناسبو شرايطو برابرولو، د هغوی د ژوند ښه والي او حقوقو په اړه بېلا بېلې مقالې وړاندې شوې.

## د فرانسې او بريتانيا ترمنځ په سمندر کې درې نور کډوال ډوب شوي

مهاجرنيوز




فرانسوي چارواکو اعلان کړی چې د چهارشنبې په سهار د فرانسې او بريتانيا ترمنځ په انګليس کانال کې درې کډوال خپل ژوند له لاسه ورکړی. دغه کډوال هڅه کوله چې د فرانسې له شمال څخه په کښتيو کې ځانونه بريتانيا ته ورسوي.

د فرانسې په شمال کې د انګليس کانال چارواکي په يوه مطبوعاتي اعلاميه کې ويلي، د چهارشنبې په سهار په ۸ بجو د کالې ښار په دوه کيلومترۍ کې يوه کښتۍ ډوبه شوه. له دغې کښتۍ څخه ۴۵ تنه ژغورل شوي او د دوو تنو مړي موندل شوي دي.



Website: *https://morr.gov.af*

Twitter: *https://twitter.com/MoRRAfg*

Facebook: *https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

فرانسوي چارواکي وېلي چې د دوی یو تن کارکوونکی په اوبو کې د کډوالو د ژغورلو یو واسکټ ولید چې وروسته بیا د ژغورنې ډلې سیمې ته ورغلل او کډوال یې و ژغورل .

د چهارشنبې په سهار د کالې په سواحلو کې د کډوالو د لټون عملیات دوام درلودل. په سیمه کې د ایرلنډ شرکت اړوند یوه کښتۍ په اوبو کې یو بل سړی په بیهوښۍ حالت کې و موند. وروسته بیا دغه کس په الوتکه کې د بولون سور میر روغتون ته انتقال شو چې هلته یې ساه ورکړه.

په سمندر کې بحراني شرایطو ته په پام سره، فرانسوي چارواکي په سمندر او هیواد کې د کډوالو د ژغورلو لپاره لازم امکانات ځای پرځای کړي. د کالې په بندر کې یو روغتیایي ډله هم فعاله شوې ده.

په سمندر کې د مرګ ژوبلې پرله پسې پېښې

د کښتۍ ډېیدوني دغه پېښه یوه اونۍ وروسته له هغه کېږي چې په یوه بله پېښه کې یو ۴۰ ورځنۍ ماشومه هم په انګلیس کانال کې ډوبه شوه. تیره اونۍ د پنجشنبې په ورځ  یوه کورنۍ چې بریتانیا ته یې د تګ هڅه درلوده، د مریم په نوم ۴۰ ورځنۍ لور یې وروسته هغه مړه شوه چې د دوی په کښتۍ کې اوبه د ننه شول.

۲۰۲۴ کال په انګلیس کانال کې د کډوالو لپاره مرګونی کال بلل کېږي. سږ کال تر دې دمه ۵۵ تنه له دغه سمندري لارې څخه بریتانیا ته د رسیدو په هیله خپل ژوند بایللی.

د روان کال له پیل راهیسې نږدې ۲۷ زره کډوال د انګلیس کانال له لارې بریتانیا ته په اوښتو بریالي شوي دي. د برېتانیا د کورنیو چارو وزارت د رسمي شمېرو له مخې، د روانې میاشتې له ۱۱ څخه تر ۱۵ پورې شاوخوا ۹۰۰ کډوال پر دغه سمندر ځانونه برېتانوي سواحلو ته رسولي دي .

## محکمه اداری فدرال در آلمان: با ادغام در جامعه نمی شود الحاق همسر را تسریع کرد

مهاجرنیوز




**براساس حکم یک محکمه در آلمان، پناهجویان قبول شده ای که پس از فرار ازدواج کرده اند و قصد دارند همسرشان را بیاورند، نمی توانند دوره سه ساله انتظار را کاهش دهند، حتی اگر کار و مسکن داشته باشند و به خوبی ادغام شده باشند .**

**روز پنجشنبه محکمه اداری فدرال در لایپزیگ با اعلام این تصمیم، دعوای یک مهاجر سوریایی و همسرش را رد کرد .آن‌ها در سال‌های ۲۰۱۳ و ۲۰۱۴ جداگانه از سوریه به لبنان فرار کردند و در سال ۲۰۱۹ در طی یک اقامت کوتاه در سوریه ازدواج کردند.**

**مرد مهاجر که در سال ۲۰۲۰ به آلمان آمد پس از دریافت قبولی و گذراندن یک دوره آموزشی ادغام، در سال ۲۰۲۳ شغل دائمی پیدا کرد. او اجازه اقامت دائمی دارد و اپارتمانش به اندازه کافی بزرگ است تا دو نفر را جای دهد .**

**همسر او در سفارت آلمان در بیروت درخواست ویزای سفر به آلمان را کرد که رد شد. این تصمیم از سوی محکمه اداری فدرال تأیید شد. محکمه اعلام کرد که این زوج پس از فرار ازدواج کرده‌اند و به این خاطر نمی توانند از قوانین خاصی بهره مند شوند.**

**به گفته مقام های مسئول، قانون اقامت اجازه می دهد که همسر در این شرایط پس از یک دوره جدایی که دست کم باید سه سال طول بکشد به شوهرش در آلمان الحاق شود. افزون براین پناهجوی به رسمیت شناخته شده باید بتواند هزینه های زندگی خانواده اش را تامین کند و اپارتمانش به اندازه کافی جا داشته باشد .**

**محکمه اداری فدرال تصریح کرد که برآورده شدن شرایط دیگر نمی تواند به کاهش مدت سه ساله جدایی کمک کند. با این حال این دادگاه پرونده را برای بررسی بیشتر به محکمه اداری برلین ارجاع داد تا مشخص شود که آیا دلایل دیگری برای اعطای ویزا به همسر این مرد سوریایی وجود دارد یا خیر .**

## کنترول های مرزی در آلمان: ۱۰۰۰ تن در مرزهای غربی عقب رانده شده‌اند

مهاجرنیوز




براساس ارقام وزارت داخله آلمان، از زمان گسترش کنترول های مرزی در اواسط ماه سپتمبر ۱۰۰۰ تن در غرب کشور عقب رانده شده اند. اطلاعات جدیدی نیز راجع به بازداشت قاچاقبران نشر شده است.

به گزارش وزارت داخله آلمان فدرال، در نخستین ماه پس از گسترش کنترول به همه مرزها، در غرب این کشور از ورود حدود ۱ هزار تن جلوگیری شده است .

افزون براین از تاریخ ۱۶ ماه سپتمبر تا ۲۰ اکتوبر حدود ۱ هزار و ۷۰۰ مورد سفر غیرمجاز ثبت شده و حدود ۳۰ قاچاقبر دستگیر شده اند. قبل از آن روزنامه آلمانی «راینیشه پست» در این باره گزارش داده بود .

اصولا کنترول های مرزی در حوزه شینگن مجاز نیست. اما به گفته نانسی فیزر، وزیر داخله آلمان فدرال برای جلوگیری از مهاجرت غیر قانونی، حملات تروریست های اسلام گرا و جرائم فرامرزی راه دیگری وجود نداشته است .

از اواسط ماه سپتمبر کنترول به مرزهای آلمان با فرانسه، دنمارک، بلجیم، هالند و لوگزامبورگ گسترش داده شده است. در مرزهای مشترک با پولند، چک و سویس کنترول های مرزی از اواسط ماه اکتوبر سال گذشته و در مرز آلمان با اتریش از خزان سال ۲۰۱۵ آغاز شده بود .




**کنترول های مرزی با تمرکز بر جنوب و شرق**

**در چهار مرز آلمان در جنوب و شرق کشور تعداد افرادی که توسط ماموران کنترول رهگیری می شوند، به صورت متوسط بسیار بیشتر از نقاط مرزی دیگر است.**

**طبق اطلاعات وزارت داخله از اواسط ماه اکتوبر سال ۲۰۲۳ تا ۲۰ اکتوبر سال ۲۰۲۴ حدود ۳۳ هزار مورد رد مرز ( عقب راندن) و تقریبا ۵۷ هزار مورد ورود غیرمجاز ثبت شده است. افزون براین حدود ۱ هزار و ۴۰۰ قاچاقبر دستگیر شده اند .**

**پولیس آلمان فدرال می خواهد به تاریخ اول نومبر یک نتیجه گیری درباره مجموع ارقام و تاثیرات کنترول مرزی را منتشر کند .**

## هالند: بسته سختگیرانه تر پناهندگی و کنترول مرزها نیز برنامه ریزی شده است

مهاجرنیوز




در هالند، حکومت ائتلافی که حزب خیرت ویلدرس، سیاستمدار راست افراطی نیز در شمول آن است، یک بسته قوانین را ارائه کرده که در صورت تصویب آن، حقوق پناهجویان شدیدا محدود می شود. اما اعلام وضعیت اضطراری پناهندگی منتفی شده است.

هالند که سیاست تشدید قوانین پناهندگی را در پیش گرفته است، برای کنترول های مرزی که قرار است سر از ماه نومبر آغاز شوند، در حال برنامه ریزی است. اما براساس آن چه که خیرت ویلدرس در شبکه اجتماعی «ایکس» اعلام کرد، اعلام وضعیت اضطراری پناهندگی منتفی شده است .

پیش از آن، روسای چهار جناح حکومت ائتلافی در پارلمان موافقت شان را با این بسته پناهندگی اعلام کرده بودند. ماه ها بود که آن ها در این باره اختلاف نظر داشتند .

ویلدرس می خواست وضعیت اضطراری پناهندگی اعلام کند تا بتواند بدون رای گیری در پارلمان قوانین سختگیرانه را به کرسی بنشاند. اما نه تنها اپوزیسیون، بلکه شرکای ائتلافی اش نیز با آن مخالف بودند. چرا که برای چنین کاری امکانات قانونی کافی وجود ندارد .

کاهش حقوق پناهجویان

در صورتی که این قوانین به تصویب برسند، پناهندگی فقط حداکثر به مدت سه سال به متقاضی تعلق می گیرد. حکومت ائتلافی می خواهد افزون براین پناهجویان سوریایی را پس بفرستد و دست کم بخش هایی از سوریه را امن اعلام کند .

همچنین به گفته فرستنده رادیویی و تلویزیونی «ار تی ال» در هالند، حق الحاق اعضای خانواده برای پناهجویانی که اجازه اقامت دارند، محدود می شود .




قرار است این بسته جدید قوانین پناهندگی برای رای گیری هم به مجلس سفلای پارلمان ارائه شود که در آن جا حکومت دارای اکثریت است و هم به مجلس سنا (مجلس علیا). انتظار می رود که این بسته قوانین در آن جا نیز حمایت کافی به دست بیاورد .

حدود یک سال پیش حزب راست افراطی برای آزادی «PVV» به رهبری ویلدرس در انتخابات پارلمانی پیروز شد .

«PVV»از حدود سه ماه پیش به این سو همراه با حزب راستگرا و لیبرال«VVD» ، حزب مرکز «NSC» و حزب راست گرا و پوپولیستی دهقانان «BBB» حکومت می کند .

شمار پناهجویان در هالند با تقریبا ۴۰ هزار تن در سال ثابت است. اما این کشور سال ها است که در زمینه اسکان آن ها مشکلات جدی دارد. کارشناسان و مقام های دولتی دلایل آن را تلاش های حکومت برای کاهش هزینه ها و کمبود مسکن عنوان کردند.